# د کامیابۍ او نیکمرغۍ

# ژوند ۱۸۰ رازونه

ليكوال
دوكتور عائض
القرني



Ketabton.com

ژباړه او ترتيب
ابو عبدالله ارشاد احمد سراج کاموی

(c) ketabton.com: The Digital Library

2020-11-13 - Friday

# د کامیاب

# او

# نیکمرغه ژوند

## (۱۸۰) رازونه

**لیکوال**

دوکتور عائض القرني

**ژباړه او ترتیب**

ارشاد احمد سراج کاموي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| کتاب نوم: | د کامیاب او نیکمرغه ژوند(۱۸۰) رازونه |
| لیکوال: | دوکتور عائض القرني |
| ژباړه او ترتیب: | ارشاد احمد سراج کاموي |
| کمپوز/ډیزاین | ګل محمد (عادل) |
| خپرندوی: | افغان خپرندویه ټولنه، جلال کوټ |
| چاپ شمېر: | ۱۱۰۰ |
| چاپ وار: | لومړي |
| چاپ کال: | ۱۳۹۸ هـ ش - ۲۰۲۰ میلادي |
| بیه: | (  ) افغانی |

د چاپ حقوق افغان خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

**د تر لاسه کیدلو درکونه :**

- افغان کتاب پلورنځی، لاندې منزل، اسحاق زی مارکیټ، بزازی ځلور لارې ، جلال آباد.۰۷۷۹۰۹۰۷۸۲-۰۷۸۰۸۵۶۱۷۴
- خراسان کتاب او قرطاسیه پلورنځی ،لاندې منزل، اسحاق زی مارکیټ،بزازی ځلور لارې ،جلال آباد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ژباړن سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَام عَلٰى أَشْرَفِ الْاَنْبِيَاء وَسَيِّدِ الْمُرْسَلِيْن، أَمَّا بَعْد:

گرانو لوستونکو!!!

ایا تاسې پوهېږئ،چې کامیابه او نېکمرغه ژوند څه شی دی؟ زه خو وایم چې:کامیابه او نېکمرغه ژوند؛سوکالي او ارامي ده، کامیابه او نېکمرغه ژوند؛د زخمي او دردېدلو زړونو پټۍ ده. کامیابه او نېکمرغه ژوند؛د ویرجنو موسکا او خندا ده.

نو د دې کامیابه او نېکمرغه ژوند دلاسته راوړلو په باره کې دوکتور عایض القرني په خپل کتاب کې (۱۸۰)رازونه راغونډ کړي دي،دا چې زموږ ولس دردېدلی، کړېدلی دی او تسلي غواړي؛ نو ما وغوښتل،چې ددې رسالې ژباړه ستاسې پرمخ پرانېزم،ساترګې مو پرې یخې شي او خوند واخلئ؛ نو زه اوس لاسونه لپه کوم او خپل مهربان رب څخه د دې کتاب په ترتیب کولو،برابرولو،ژباړلو ،حواله ورکولو او اصلي پښتو کولو کې د کمي او زیاتي کولو څخه ښښنه غواړم،ځکه چې زه حقیر ډېر کمزوري؛ او الله تعالی ډېر مهربان او رحم کوونکې دی.په اخر کې د خپرندوی ټولنې څخه مننه کوم، چې د چاپ په ډګر کې یې دا ځل یو بل قدم کېښود او د دې کتاب د چاپ کولو مسؤلیت یې پر غاړه واخېست،تر دې چې د ستاسې تر لاسو یې هم در ورساوه،دا چې دوی د اسلام ښکلي،سپېڅلي او مقدس دین ته خدمت کوي،الله تعالی دې ترې دغه خدمت قبول کړي او جنت الفردوس دې نصیب شي.

وَمَا أُرِيْدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ

**ستاسې دیني ورور**

**ارشاد احمد سراج کاموي**

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د کتاب لوستونکو ملګرو!!!

السلام علیکم ورحمة‌الله وبرکاته!

امابعد!

زه له تاسي ټولو لوستونکو څخه مننه کوم چې خپل ارزښتمن وخت مو زما د کتاب لوستو ته ورکړی،زه ځان ستاسي د دې ښېګړې قرضه‌ وړی بولم او ستاسي لپاره په ستر درشل کې لاسونه لپه کوم،الله تعالی دې ستاسي ژوند له اندېښنو نه بچ او خوندي(په ډډه) وساتي، دا چې زما او ستاسي ترمنځ د دې کتاب د لوستلو له برکته اشنایي(مینه) پیداشوې؛ نو څکه د زړه نه درته دعاء کوم او په دې شعر خپلې خبرې رانغاړم:

ژباړه:د قدرت چارې خپل مسیر ته پرېږده او خپل مغز پاک کړه،د سترګو په رپ کې الله تعالی حالات بدلوي.

ستاسي خواخوږي ملګری

عائض القرني

۱۴۲۸/۱/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کامیابه او خوشحاله ژوند

# (۱۸۰) رازونه

که غواړې،چې نېکمرغه او کامیابه ژوند ولرې؛ نو لاندې(۱۸۰)رازونه په پام کې ولره:

۱. ایمان؛ غمونه، اندېښنې او له زړه نه، ناوړه اغېز لرې کوي.

۲. ایمان؛ د لمونځ کوونکو محراب(عبادت خونه)او د عبادت کوونکو لپاره غذا ده.

۳. په تېرو پسې مه گرځه.

٤. تل پر تقدیر راضي؛ او له الله تعالی څخه د روزی پر تقسیم خوښ اوسه.

٥. د الله تعالی ذکر او یاد:

- زړونو ته ډاډ وربښي.
- گناهونه مینځي.
- الله تعالی پرې له انسان څخه خوشحالېږي.
- له افتونو څخه د خلاصون لامل دی.

٦. که له چا سره څه ښېگړه وکړې؛نو له هغه څخه د منني تمه مه کوه او بدل یې یوازې له الله تعالی څخه غواړه.

۷. چې سبا کړې؛نو د بېگاه انتظار مه کوه! او خپل ژوند د همدغې ورځې په چوکاټ کې عیار او چمتو کړه.

۸. راتلونکی تر راتلو پورې پربېږده،چې کله راشي؛نو بیا به ورسره گورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. زړه له حسد، کینې او نفاق نه تل پاک وساته؛ نو خوښ، خوشحاله او نېکمرغه به یې.

۱۰. له خلکو سره یوازې د خیر په چارو کې ونډه اخله او له بې گټې چارو څخه یوازیتوب غوره کړه.

۱۱. کتاب؛ تر ټولو ښه او غوره ملگری دی، په ملتیا یې وویاړه،په سفر او حضر کې یې له ځانه سره ولره.

۱۲. له علماوو او نېکانو سره ناسته ولاړه ساته.

۱۳. د کایناتو د نظم په خبر ته هم خپل کور،دفتر،خوراک او ټولې چارې منظمې کړه.

۱٤. په ځمکه گرځه شنې سیمې او باغونه گوره او د الله تعالی په کایناتو کې فکر کوه.

۱۵. تل سپورت کوه،له سستۍ او لټۍ څخه ځان وساته او اوزگارتیا هم پکار راوله؛ نو تل به چټک او چالاک اوسې.

۱٦. د تاریخ کتابونه لوله،له کیسو او نا اشنا پېښو یې پند اخله.

۱۷. په خپل ژوند کې نوښت رامنځته کوه،ځکه انساني طبیعت نوښت خوښوي.

۱۸. له چایو،قهوې،چېلم او سگرټو نشیي توکو له کارونې نه ځان ساته.

۱۹. د خپلو کالیو پر پاکوالي سربېره مسواک او خوشبو کاروئ،چې د شخصیت ظاهري اړخ مو هم زړه راښکونکې وي.

۲۰. د داسې کتابونو د مطالعې نه ډډه وکړئ،چې نهیلي او بې زده توب لور ته راښکل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱. دا له یاده مه باسئ:

- چې الله تعالی ښښونکی او؛
- ګناهونه پر نېکیو بدلونکی هم دی.

۲۲. پر دین،عقل،روغتیا،پاکلمنی،روزی،بچیو او داسې نورو نعمتونو د الله تعالی شکر اوباسئ.

۲۳. له هغه چا څخه پند او عبرت واخله چې:

- نه عقل لري او نه صحت.
- نه سترګې لري او نه غوږونه.
- نه پښې لري او نه لاسونه او؛
- که دا ټول شیان لري،خو په بند کې پراته دي.

۲۴. په سوچ او فکر سره د قرآن شریف تلاوت ډېر کوه،د یادولو کوښښ يې کوه،ځکه چې په دې اندېښنې لمنځه وړل کېدای شي.

۲۵. پر الله تعالی توکل وکړه او خپلې ټولې چارې همغه ته وسپاره او پرېکړه يې خوښ او راضي اوسه.

۲۶. هغه ځوک وبښه،چې پر تا يې تېرې کړی،له خپلوانو سره اړیکې مه پرېکوه او که څوک درسره اړیکې پرې کوي؛نو ته يې کلکوه.

۲۷. «لا حولَ ولا قوّةَ إلا باللهِ» ډېر وایه ځکه دا:

- د سینې د پراخۍ.
- د حالاتو د سمون.
- د الله تعالی د خوښۍ لامل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸. که دې استغفار ډېر وویل؛نو د رزق دروازې به تل ستا لپاره پرانیستې وي.

۲۹. پردې؛خو باور ولره،چې تر هرې تنگسې وروسته راحت او تر هر غم وروسته خوښي شته،ځکه چې حالات پر یوه شان نه پاتې کېږي.

۳۰. پر الله تعالی ښه گمان لره او د هغه له رحمت څخه مه نهیلې کېږه!

۳۱. پر چا بد گماني مه کوه،وهمونه او فاسد خیالات شاته وغورځوه،ځکه چې دا خپله ناروغي ده.

۳۲. باور ولره،چې یوازې ته پر غم او اندېښنه اخته نه یې،بلکې تر تا پرته هم بلا او ډېر خلک پرې اخته دي.

۳۳. باور ولره،چې د غمونو او اندېښنو،لوږو او ژورو له امله زړه ژوندی کېږي،د لیدو ځواک پیاوړی کېږي،اجر او ثواب لاسته راځي.

۳۴. پېښنو او اندېښنو ته مه تسلمېږه او ناوړه خپرونو،تا ویلو،ما ویلو نه ډډه کوه.

۳۵. د لټانو او تنبلانو خلکو له ملگرتیا نه ډډه وکړه،چې دا یو ډول رواني ناروغي ده.

۳۶. په جَمعې سره د لمانځه کوښښ کوه،په ژوند کې به دې خیر او هم برکت وي.

۳۷. د تکبیر اولی را لاندې کولو هڅه کوه؛نو لمونځ به دې نه بې جَمعې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۸. له ګناهونو نه تل ځان ساته،ځکه چې ګناهونه:
- د مصیبتونو دروازې.
- د اندېښنو کرکې دي.

۳۹. له هر ډول ګناهونو څخه ځان ساته،ځکه چې دا د ټولو غمونو او اندېښنو یواځنۍ زېږنده ده.

۴۰. خپلو دُښمنانو ته ښکنځل،ستغې او سپورې مه وایه،د دې څخه ډډه وکړه،ځکه چې ستا شخصیت زیانمنوي.

۴۱. باور ولره،چې ستا غیبت کوونکی،خپلې نېکۍ تا ته دربښي.

۴۲. تل زړه ور،هوډمن او ثابت اوسه،خپل همت او عزم له لاسه مه ورکوه.

۴۳. له سخا نه کار واخله، ځکه چې په دې سره:
- سینه پراخېږي.
- د زړه خړپړتیا پرې لرې کېږي.

۴۴. د شرارت مخه په نېکۍ سره ونیسه.

۴۵. د خلکو پر وړاندې له نرمۍ نه کار واخله،چې دا به ستا دوستان ډېر او دُښمنان راکم کړي.

۴۶. د نېکمرغۍ تر ټولو لویه دروازه،چې ته پرې ورننه شې؛نو هغه د مور او پلار دُعاوې او خوا خوږي ترلاسه کول دي.

۴۷. خپل ځان وپېژنه.

۴۸. له خلکو نه د هغه څه تمه مه کوه،چې په خپله یې نشې کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۹. خپلې ټولې چارې پر یو وخت مه راټولوه.

۵۰. له یوه مهال وېش،پلان او تقسیم اوقات سره سم یوه منظمه تګلاره وټاکه.

۵۱. هغه چا ته څیر شه،چې د بدني څواک،جاه او جلال له پلوه تر تا کم وي او وپوهېږه،چې ته له ډېرو نه په ډېر څه کې لوړ یې.

۵۲. ته که له چا سره معامله کوې؛ نو دا باور ولره،چې هغه کس ستا ورور،زوی،ښځه او که هر څوک وي؛خو بې عیبه نه دی؛ نو دغه ټول په سړه سینه ومنه.

۵۳. له الهي ورکړو اولورنو سره لازم او ملزوم اوسه.

۵۴. هماغه کار کوه،چې له تاسره ښایي.

۵۵. حلال رزق وپلټه، له حرامو او سوال نه ځان ساته او سوداګري تر وظیفي غوره ده.

۵۶. لږ ګرځه راګرځه،چې نوې ژوند او نوې نړۍ وګورې.

۵۷. یوه وړکې جیبي کتابچه هرومرو له ځانه سره ولره،چې د ژوند چارې او د ژوند پېښې پکې یادښت کړې.

۵۸. له خلکو سره په سلام او رڼه تنده مخ کېږه،چې د هغوی په زړونو کې ځای ولرې.

۵۹. تر الله تعالی وروسته پر خپل ځان باور وکړه او پر سوکالۍ ونه غولېږې.

۶۰. د قرارداد او پرېکړې پر مهال له دوه توبه ډډه وکړه،له تصمیم او هوډ څخه کار واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦١. د انسانیت د ستر لارښود محمد صلی الله علیه وسلم په پلیون،ریښتینې او همېشنی نېکمرغي ترلاسه کړئ.

٦٢. روغتونونو ته لاړشه،چې د روغ بدن او ژوند په خوند پوه شې،مرستون ته لاړشه،چې د عقل په ارزښت وپوهېږې.

٦٣. له ځانه مچ مه جوړوه،چې د خلکو پر ټپونو ور پرېوځې.

٦٤. مؤمن پر دې نه خپه کېږي،چې دُنیا یې له لاسه ووځي،ځکه دا هسې هم لمنځه تلونکې ده.

٦٥. د لوراند ذات لور ته ځیر شه،چې یوه بدلمنه ښځه یې د یوه تږي سپي پر خړوبولو وبښله او د سلو خلکو قاتل یې پر یوه توبه وباښه.

٦٦. خپل خیالات او تصورات په واک کې ولره،هسې نه چې د غمونو کندې ته دې ورټېل وهي.

٦٧. نېکمرغي یوه داسې ونه ده چې:

- اوبه.
- غذاء.
- هوا .

او رڼا یې پر الله تعالی ایمان لرل دي.

٦٨. د سلیم ذوق او ښو اخلاقو درلودونکی تر ټولو نېکمرغه دی.

٦٩. پوهه د سینې پر پر اخولو سربېره تنگ نظري لمنځه وړي.

٧٠. که څوک پوهه ولري او ځان وپېژني؛نو ډېر ژر به د کامیابی پر خوند پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۱. پوهه،تجربه،ذکاوت،د مال تر ستري خزانې ستر ارزښت لري،ځکه چې پر پوهه خوښي، انسانیت او عزت دی.

۷۲. کله چې مېړه او ښځه یو بل ته غوسه شي؛نو له صبر او زغم نه دې کار واخلي،ځکه په دې سره به یې ژوند ښه تېر شي.

۷۳. که څوک نېکه ښځه او ګوزران وړ مال ولري،یعنې بل ته لاس نه نیسي؛نو په داسې حال دې د الله تعالی شکر وکړي،ځکه همدا تر ټولو ستره نېکمرغي ده.

۷٤. د تل لپاره د﴿لا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ذکر کوه؛نو ټول غمونه او مصیبتونه به دې کم شي.

۷۵. څوک چې د الله تعالی پر ربوبیت،اسلام په دین،د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پر پیغمبری خوښ شو؛نو دا پر الله تعالی حق لري،چې له ده نه هم خوښ او راضي شي.

۷٦. د کامیابۍ اصول دا دي،چې الله تعالی او د چاپېریال خلک در څخه خوښ شي او د یوه ګټور کار په رامنځته کولو اقدام وکړي.

۷۷. (دا هم واوره چې!)

- د ډوډۍ په وسیله نېکمرغي فقط یوه ورځ وي.
- د سفر نېکمرغي یوه اونۍ.
- د واده نېکمرغي یوه میاشت.
- د مال نېکمرغي یو کال وي.
- البته د ایمان په وسیله نېکمرغي ټول ژوند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸. نېکمرغـي پـه اوبو،خوړو،خـوب او واده نشيـ رامنځتـه کېدای،بلکې عمل سره منځته راځي،هغه عمل چې په سره لمر کې هم انسان عظمت بنبلای شي.

۷۹. د نېکمرغو او بدایانو ترمنځ فقط یوه ورځ واټن شته،هغوی د پرون خوند هېر کړ او سبا نه ستا او نه د هغوی دی،فقط همدا نن‍ۍ ورځ ده،که تا وګټله او که هغوی؟

۸۰. د نېکمرغۍ(او کامیابۍ) تر ټولو سترې خزانې:

- شتمني او سوله.
- دین او روغتیا دي.

۸۱. کلـه چـې پـر یـوه مصیبت اختـه شـې؛نو تـر ده د یـوه سـتر مصیبت تصور هم له ځانه سره ولره،چې دا درته ډېر وړوکـی ښـکاره شي؟ او په چټکۍ سره د هغې د زوال فکر وکړه.

۸۲. هېڅ یو قرارداد او پرېکړه تر هغې مه صادره وه چې:

- تا یې ټول اړخونه سنجولي نه وي.
- د باوري خلکو سره دې پرې مشوره نه وي کړي.
- استخاره دې نه وي کړي.

په دغه صورت کې که پریالی شوې؛نو هدف ته ورسېدې او که نه؛نو لږ تر لږه پښېمانه خو به وې.

۸۳. که یوه ښځه:

- د ټولې نړۍ واکمني.
- نړیوال سندونه او برې لیکونه ترلاسه کړي.
- خو که مېړه نه لري؛نو بیا هم بېوزله او بې چاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۸۴. مکمل ژوند همدا دی چې:

- ځواني دې د لوړو اهدافو لپاره.
- سړیتوب دې په مقاومت.
- بوډا توب او سپین ږیرتوب دې په غور او فکر کې تېر شي.

۸۵. تر سترو ماڼیو او کورونو یو وړوکی کتاب،چې زړونو ته خوښي ببنلای شي زر ځلې غوره دی.

۸۶. له الله تعالی څخه ښښنه او روغتیا غواړه،کله چې دغه دواړه در په برخه شول؛نو هر خیر دې په برخه دی او له هر شر څخه دې خلاصون وموند او همدغه ستره نېکمرغي ده.

۸۷. که یوه مړی ډوډی،څو دانې خرماوې او یوه پیاله اوبه،له یوه پوزي او له یوه مصحف سره په یوه کوټه کې له ځانه سره ولرې؛نو نړۍ ته سلام وکړه.

۸۸. په تبسم سره خندا:

- زړه قوي کوي.
- سینه پراخوي او؛
- اندېښنې لمنځه وړي.

۸. د هر وخت لپاره د﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴾سورت لوله او ډېر سوچ،فکر پکې کوه او په دې پوه شه!چې دا د ستا لپاره ډېره ښکلې دواء ده.

۹۰. عبادت نېکمرغي او وړتیا خلاصون دی،څوک چې د الله تعالی له یاد سره عادي شو؛نو دا په ښو خلکو کې شمېرل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبري،ښکلې پرهېزګاره ښځه،پراخه کور،حلاله روزي او ښه ګاونډي،هغه الهي لورنه ده،چې ډېر خلک ترې بې برخې دي.

۹۱. تر نا اهله ملګري؛ یوازېتوب او ښه ملګري تر یوازېتوبه ډېر غوره دی او د الله تعالی د قدرت ننداره کښې مټ عبادت دی.

۹۲. له امن سره وچه ډوډۍ تر هغو شاتو ډېره غوره ده،چې ترهه او وېره ورسره ملګرې وي.

۹۳. د علم خوښي همېشنۍ ده او د مال خوښي له مال سره لمنځه ځي.

۹۴. د زړه مرګ:

- د الله تعالی د اطاعت په پرېښودلو او؛
- د ګناهونو په ارتکاب کې نغښتی دی.

۹۵. چا چې په خپل کور کې نېکمرغي تر لاسه نکړه؛نو په بل ځای کې یې نشي ترلاسه کولای،چا که نننی ورځ له لاسه ورکړه؛نو سبانی یې هم له لاسه ورکړه.

۹۶. ته د مصیبت او د غم رسېدو لپاره دا دعا ولې نه وای چې:

﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ

﴾ بخاري(٦٩٩٤)ومسلم(٢٧٣٠)والترمذي(٣٤٣٥)واحمد(٢٠١٢).

۹۷. خلور شیان نېکمرغي جلبولای شي:

- ګټور کتاب.
- منونکی زوی.
- ګرانه ښځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- نېک ملګری او له الله تعالی سره مینه د دې عوض دی.

۹۸. د هماغه څه لټه وکړئ، چې پوهان يې غواړي؛خو ډېر لږ پېښېږي،چې دغه ټول په يوه کس کې راټول شي چې:

- ايمان او روغتيا.
- شتمني او خپلواکي.
- سوله او محبت.
- پوهه او قناعت.

۹۹. په نړۍ کې تر ټولو غوره شی:

- ريښتينې ايمان.
- ښه اخلاق.
- سليم عقل.
- روغ او جوړ بدن.
- کافي رزق.

۱۰۰. نېکمرغه هماغه څوک دی چې:

- نه فاسق وي او نه ناروغ.
- نه پور وړی وي او نه نېستمن.
- نه خپه وي او نه بندي.

۱۰۱. بې خطره هماغه ستا د کور لار ده او ستا لپاره برکتناکې ورځې هماغه دي،چې تا پکې کوم نېک چار ترسره کړی وي.

۱۰۲. د ځمکې کُره پر سر مه باروه او داسې فکر مه کوه،چې دغه کار به خلکو ته هم وبرېښي!مهمه دا ده،چې د يوه زکام پر رسېدو ورځخه ستا او زما د دواړو مرګ هېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۰۳. د مؤمن پر حال تعجب دی،چې هر کار يې د خير وي،که تنگسه کې پرېوځي،نو صبر کوي!دا يې هم گټه ده او که له خوښيو سره مخ شي؛نو د الله تعالی شکر پرې کاږي،چې دا يې لا پسې سودمن دی.

۱۰٤. موسکا د نېکمرغۍ کیلي ده چې:

- مينه يې دروازه.
- خوښي يې باغچه.
- رڼا يې ايمان او؛
- امن يې دېوال گڼل کېږي.

۱۰۵. يو تر بل ارزښت ناک شيان:

- بچي تر ثروت.
- روغتيا تر شتمنۍ.
- امن تر استوگنځي.
- تجربه تر مال ډېر ارزښت لري.

۱۰٦. پرونۍ ورځ مړه،نننۍ ورځ په جريان کې ده او سبا لاژېږېدلې نه ده،ته د همدغه ساعت بچی يې چې د الله تعالی په اطاعت سره ورڅخه گټه واخلې.

۱۰۷. شپږ شيان کافي او شافي دي:

- دين.
- علم.
- شتمني.
- مروت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- عفوه.
- روغتیا.

۱۰۸. ای انسانه! ته دوه سترګې،دوه غوږونه،دوه پښې او دوه لاسونه لرې،ژبه،ایمان،قرآن امان لرې بیا نو:

﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾(الرحمن/۱۳)

ژباړه:نو ای پېریانو او انسانانو! تاسې به د خپل رب کومه خبره دروغجنه ګڼئ.

۱۰۹. زموږ ستونزه دا ده،چې حاضر مو له لاسه ورکړی،په ماضي بوخت یو او سبا ته لېوال بیا؛نو پوهه او ځیرکي کوم خوا ولاړه؟!

۱۱۰. د بل په شخصیت کې ویلي کېدل د خپل ځان وژل دي او ډېره ارزانه نېکمرغي،چې د عاقلانو په بازار کې تر لاسه کېږي د بې ګټې خبرو او چارو پرېښودل دي او او ډېره ارزښتمنه سوداګریزي همدا ده،چې ته د خلکو او خلک تا ته ښه ښکاره شي!

۱۱۱. یو ناوړه ګاونډي تر دې ډېر بد دی،چې یو سړی په بدنېتۍ کې ژوند وکړي.

۱۱۲. تر ویده کېدو مخکې خپل زړه د بښنې پر اوبو اوه ځله ومینځه او د بښنې پر دسمال یې وچ کړه؛نو د ایمان په خوند به پوه شې.

۱۱۳. د غمونو او اندېښنو لامل الله تعالی ته شا کول او دُنیا ته مخ کول دي او دا هماغه زندان دی،چې نه په کې ژوند او نه پکې مرګ شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۱٤. له یوه هېواده بل ته په سفر کولو نېکمرغي لاس ته نشي راوړل کېدای،نېکمرغي او خوشحالي داسې ترلاسه کېږي،چې له یوه شعور نه بل ته لاړ شي.

۱۱۵. د الله تعالی لورنه پر خپلو بنده گانو دا ده،چې د چا په زړه شتمني او بډایتوب ځای پر ځای کړي؛نو ځان ورته د ټولې نړۍ پاچا ښکاري.

۱۱٦. څه شیان یو څو نورو ته اړتیا لري:

- ❖ خوښي او خوشحالي سولې ته.
- ❖ مال خیرات ته.
- ❖ جاه وجلال سپارښت ته.
- ❖ مشري عاجزۍ ته.

هر څوک په خپل کور کې امیر دی او هېڅوک یې له دغه امارت څخه نشي را پر څولای.

۱۱۷. همدا راز ژوند فرصت دی؛خو هله پېژندل کېږي،چې له لاسه وځي او عافیت د روغمنو خلکو پر سرونو یو داسې تاج دی،چې یوازې ناروغان یې ویني.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

﴿الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ﴾ بخاري.دحدیث نمبر(۹).

ژباړه:کامل مسلمان هغه څوک دی،چې نور مسلمانان یې د لاس او ژبې له زیانه خوندي وي.

۱۱۸. که له تا سره حسد کوونکی نشته؛نو په تا کې هېڅ خیر نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۹. که څوک ملګری نه لري،نو اخلاق هم نه لري او چې دین نه لري،نو مبدا هم نه لري.

- دُنیا-عافیت دی.
- ځواني-صحت دی.
- مروت-صبر دی.
- عزت-تقوی ده.
- حسب-مال دی.

۱۲۰. تر ټولو ښې نېکمرغي نشې ترلاسه کولای،چې خپل حس او عقل،خیال او وجدان له هرې ناروا سلطې ازاد نه کړې او د یوه الله تعالی په بندګۍ او اطاعت کې یې ور نه کړې نو.

- هغه څوک نېکمرغه دی،چې عُمر یې اوږد او عمل یې ښه وي!
- هماغه څوک موفق دی،چې پر مال سربېره یې احساسات هم زیات وي.
- هماغه څوک مبارک دی،چې د پوهې له ډېربښت سره یې پرهېز ګاري هم زیاته وي.

۱۲۱. د هغه چا بدله،چې خلکو ته احترام لري،دا ده چې خپل غمونه هېر کړي او د هغه چا ثواب،چې د خپل مولا خدمت کوي دا دی،چې خلک باید د ده خدمت وکړي او د هغه چا جایزه،چې دُنیا نه شا کړي دا ده،تر څو له هره لوري پرې د رزق دروازې راپرانستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۲. نېکمرغي دا ده،چې ځان د کمال تر پوړۍ ورسوې او کامیابي دا ده،چې د خپلو چارو گټه ترلاسه کړې.

۱۲۳. نیمه شپه راپورته شه،په ښه ډول اودس وکړه او تر اودس وروسته دوه رکعته لمونځ وکړه او بیا د رب العالمین لور ته لاسونه لپه کړه او دوه رڼې اوښکې له سترگو راتوئ کړه او داسې ووایه،چې ای کریم او جلیل ذاته!پر دې کوټه او ناچله عمل بشپړه مزدوري راکړه.

۱۲٤. د الله تعالی قضاء او قدر ټول گټور دي،ان تر دې،چې معصیت هم په دې شرط،چې پښېمانتیا او توبه ورسره مله وي.

۱۲٥. تل﴿ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴾ او یا هم ﴿ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ﴾الترمذي (۳٥۲٤)وایه؛نو خوښي،پراخي،نېکمرغي او ډاډمني به په خپلو سترگو ووینې.

۱۲٦. په دُنیا کې هم جنت شته؛خو که څوک دې دُنیوي جنت ته ورنه رغلو؛نو د اخرت جنت ته هم نشي ورتلای او دُنیوي جنت په خوښۍ سره د الله تعالی ذکر او اطاعت کول دي.

۱۲۷. د الله تعالی رحمت پراخه دی او دروازې یې پرانستل شوي دي،توبه منل کېږي؛نو د توبې په ویستو کې چټکي وکړئ!

الله تعالی فرمایي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا ﴾(النحل/۱۲۸)

ژباړه:الله تعالی د هغو کسانو ملگری دی،چې تقوی غوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا﴾(التوبة/۴۰)

ژباړه:مه خپه کېږه! الله تعالی له موږ سره دی.

﴿أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ﴾(الم نشرح/۱)

ژباړه: ایا نه ده پراخه کړې موږ تالره سینه(په نبوت او حکمت سره،بلکه پراخه کړېده موږ سینه ستا!).

﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا﴾(آل عمران/۱۳۹)

ژباړه:تاسې مه سستېږئ او مه غمژن کېږئ.

﴿فَاللَّهُ خَيْرٌ حَافِظًا﴾(یوسف/۶۴)

ژباړه:الله تعالی ډېر ښه ساتندوی دی.

﴿إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ﴾(النجم/۳۲)

ژباړه:ستا د رب د ښښنې لمن ډېره پراخه ده.

﴿وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ﴾(یوسف/۸۷)

ژباړه:او مه نا اُمېده کېږئ د رحمت د الله تعالی نه.

﴿وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾(یوسف/۶۴)

ژباړه: او دا الله تعالی بهترین د رحم کوونکو نه دی.

﴿وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا﴾(المائدة/۲۳)

ژباړه:پر الله تعالی ډاډه اوسئ.

﴿فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ﴾(المائدة/۵۲)

ژباړه:پس ښايي،چې الله تعالی کامیابي راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللّٰهَ یُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا﴾(الطلاق/۱)

ژباړه:هیله ده او ښایي،چې الله تعالی به پیداکړي وروسته د دې طلاق نه کوم ښه کار او نوې صورت.

﴿كُلَّ یَوْمٍ هُوَ فِیْ شَاْنٍ﴾(الرحمن/۲۹)

ژباړه:هر وخت هغه الله تعالی په بېل بېل جلا جلا کار کې دی.

﴿فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا﴾(الم نشرح/۵)

ژباړه: نو یقیناً سره د سختۍ اسانتیا شته.

﴿سَیَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ یُّسْرًا﴾(الطلاق/۷)

ژباړه:زر دې چې پیدا به کړي الله تعالی وروسته د تنگسیا نه اسانتیا او پراخي.

﴿فَصَبْرٌ جَمِیْلٌ﴾(یوسف/۱۸)

ژباړه:پس صبر زما لپاره ډېر ښه دی.

﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَیِّ الَّذِیْ لَا یَمُوْتُ﴾(الفرقان/۵۸)

ژباړه:او په هغه ژوندي ذات باندې توکل کوه!چې نه مړ کېږي.

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِیْلُ﴾(آل عمران/۱۷۳)

ژباړه:زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هماغه ډېر ښه کار ساز دی.

﴿اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِیْنًا﴾(الفتح/۱)

ژباړه:ای پیغمبره!موږ تا ته ښکاره فتح درکړه.

﴿وَاللّٰهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾(آل عمران/۶۷)

ژباړه:الله تعالی ساتونکی او بچ کوونکي دی تا له د خلکو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيماً ○﴾(النساء/۱۱۳)

ژباړه:او پر تا د الله تعالی لورنه ډېره زیاته ده.

﴿وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ﴾(النحل/۵۳)

ژباړه:پس پتاسې باندې،چې کومه لورنه ده دا د طرفه د الله تعالی نه ده.

﴿لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ﴾الترمذي(۳٦٠١)

ژباړه:نشته له گناه نه خلاصون او پر اطاعت لاسبري کېدل،مگر یوازې د الله تعالی پر مرسته کېدای شي.

﴿أَلَمْ نَجْعَلْ لَهُ عَيْنَيْنِ ۝﴾(البلد/۸)

ژباړه: ایا نه دي پیداکړي جوړې کړي موږ ده ته،دوه سترگې(چې پرې وگوري،بلکه ورکړي مو دي دوه سترگې).

﴿وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ۝﴾(البلد/۹)

ژباړه: او(ایا نه ده ورکړې موږ ده ته)یوه ژبه او دوه شونډې(چې خبرې خوراک او نور پرې کوي).

﴿لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾(ابراهیم/۷)

ژباړه:نو بس که چېرته تاسې شکر وویست؛نو زه به تاسې ته نور هم زیات کړم.

﴿وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً﴾(لقمان/۲۰)

ژباړه:او پوره کړي دي الله تعالی په تاسې نعمتونه خپل(هم)په ښکاره او(هم)په پټه.

﴿وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ﴾(غافر/۴۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه:او خپله معامله زه الله تعالی ته سپارم.

﴿اَللّٰهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهٖ﴾(الشورى/۱۹)

ژباړه:الله تعالی ډېر لطف کوونکی بنه مهربان دی په بنده ګانو خپلو.

﴿لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللّٰهِ﴾(الزمر/۵۳)

ژباړه:د الله تعالی له رحمت نه، مه نهیلي کېږئ!.

﴿أَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾(الزمر/۳۶)

ژباړه:ایا الله تعالی د خپل بنده لپاره کافي نه دی؟.

﴿فَابْتَغُوا عِندَ اللّٰهِ الرِّزْقَ﴾(العنکبوت/۱۷)

ژباړه:نو ولټوئ د الله تعالی سره روزي.

﴿وَمَن يُؤْمِن بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهُ﴾(التغابن/۱۱)

ژباړه:او چا چې ایمان راوړه په(تقدیر)د الله تعالی سره،لاره ښایي الله تعالی زړه د ده ته(او توفیق ورکوي د صبر،ثبات او استقامت).

﴿اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾(المائدة/۲۰)

ژباړه:دا مه هېروئ،چې الله تعالی په څه لوی نعمت تاسې سر لوړي کړي یئ.

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾(غافر/۶۰)

ژباړه:ستاسې رب وایي ما وبولئ،زه به ستاسې دعاوې قبولې کړم.

﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ﴾(النمل/۶۲)

ژباړه:ایا هغه څوک چې قبلوي دعا د ډېر ناچاره او مجبور،کله چې را وبلي دا مجبور هغه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ۝﴾ (الاخلاص/۱/۲/۳/۴)

ژباړه: ووایه هغه الله تعالی دی، یوازې یو، الله تعالی هېچا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي، نه هغه څوک زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی او هېڅوک د هغه سیال نشته.

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا﴾ (محمد/۱۱)

ژباړه: دا په دې وجه، چې الله تعالی مولا (دوست، مددگار) د هغه کسانو دی، چې ایمان یې راوړی دی.

﴿فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ﴾ (البقرة/۱۳۷)

ژباړه: بس زر دې، چې بس به شي تالره الله تعالی د شر د دوی نه.

﴿فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ﴾ (الفتح/۱۸)

ژباړه: نو راولېږله الله تعالی تسلي داډ ګېرنه (ارام د زړونو).

﴿الْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ﴾ مسند احمد (۸۸۵٦)

ژباړه: (یو چا ته) نېکه (ښایسته، نرمه) خبره کول (هم) صدقه ده.

د خپل مسلمان ورور سره په ورین او پراخه تندي مخ کېدل هم صدقه ده.

﴿ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (فصلت/۳۴)

ژباړه: دفع کوه ته (په هغه خبرو او کړنو سره) چې هغه ښایسته (او مینه ناکې) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


﴿مَآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰٓ﴾(طه/۲)
ژباړه:موږ دا قرآن پر تا باندې د دې لپاره نه دی نازل کړی،چې ته په کړاو اخته شې.

﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾(الحج/۷۸)
ژباړه:ما تاسې ته په دین کې کوم حرج او تنګي نه ده ګرځولې.

﴿وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ﴾(الاعراف/۱۵۷)
ژباړه:او لرې کوي له دوی څخه درانه بارونه(حکمونه)د دوی او هغه سختې سزاګانې،چې په دوی باندې وې.

﴿قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ۝ وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ۝﴾(طه/۲۵/۲۶)
ژباړه:وویل موسی علیه السلام ای زما ربه! پراخه کړه مالره سینا زما او اسان کړه ماته دغه مهم کار زما.

﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ۝﴾(الاعلی/۸)
ژباړه:او اسانه وو موږ تا ته دپاره د شریعت اساني.

﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾(البقرة/۲۸۶)
ژباړه: کړاو نه ږدي الله تعالی په هېچا باندې،مګر په اندازه د وس د هغه.

﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا﴾(البقرة/۲۸۶)
ژباړه: ای ربه زموږ!!!مه نیسه موږ لره،که هېر شي زموږ څخه(کوم امر ستا).

﴿أَوْ أَخْطَأْنَا﴾(البقرة/۲۸۶)
ژباړه: او یا خطائي وکړو موږ(په کولو د ګناه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: ای زموږ ربه!!! او مه باروه په موږ باندې درونډ پېټی.

﴿رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: ای ربه زموږ! او مه اچوه په موږ باندې هغه مصیبتونه،چې وس(توان)نشته موږ لره د هغې.

﴿وَٱعۡفُ عَنَّا﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: او عفوه وکړه موږ ته.

﴿وَٱغۡفِرۡ لَنَا﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: او ببښنه وکړه موږ ته.

﴿وَٱرۡحَمۡنَآ﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: او رحم وکړه په موږ باندې.

﴿أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾(البقرة/۲۸۶)

ژباړه: ته مولی مدد گار یې زموږ،پس غلبه راکړه موږ ته په قوم کافرانو باندې.

او داسې نورې بېلگې.....!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

زما پر امت ستره پیرزوینه شوې:

- الله تعالی یې پالنه او روزنه کوي.
- پېغمبر یې سیدالمرسلین.
- دین یې په ټولو دینونو غوره.
- اُمت یې په ټولو اُمتونو غوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


○ شریعت یې په ټولو شروعو کې غوره دی.

۱۲۸. د نجات اصول او د خوښۍ ارکان:

➢ د الله تعالی په ربوبیت خوښېدل.

➢ د اسلام په مقدس دین خوښېدل.

➢ د محمد صلی الله علیه وسلم پر پېغمبرۍ خوښېدل.

۱۲۹. له ننني ورځې سره په مخ کېدو یې تود هر کلی وکړه،بیا یې د فرایضو،واجباتو او نورو دندو په تر سره کولو ښه مېلمستیا وکړه،توبه اوباسه او په ګناهونو یې مه خرابوه!

۱۳۰. که ماضي در په زړه شي؛نو ننني ورځ یاده کړه او خوښي ترلاسه کړه او چې ننۍ ورځ در په زړه شي؛نو ننني مثبت عمل هم را په زړه کړه،چې نېکمرغه شې.

۱۳۱. عزتمنه لار جومات ته تللې او له امن ځخه ډکه لار کور ته تللې ده.

۱۳۲. خومره ښه او درونډ حالت د سجدې دی؛خو چې د خپل رب په وړاندې وي.

۱۳۳. شکر اوباسه:

❖ پر اسلام؛ د کافر په لیدو.

❖ پر تقوی؛ د فاجر په لیدو.

❖ پر پوهه؛ د ناپوه په لیدو.

❖ پر روغتیا؛ د ناروغ په لیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳٤. د زړه د خوشحالولو څلور څېزونه:

- په ښایسته اواز قرآن کریم اورېدل.
- د زړه په حضور د الله تعالی ذکر کول.
- د حلال مال نه صدقه کول.
- په فصیحه او نرمه ژبه نصیحت کول.

۱۳۵. لمر او سپوږمی،ورېځې او بادونه،تیاره او رڼا،شپه او ورځ....دا هر څه ستا د ګټې لپاره پیدا شوي؛نو ځکه تر تا غوره نه دي! ړوند د سترګو په ارمان وي،چې کاش!څه وګوري،کوڼ د اورېدو،ګونګ د وینا او شل د مزل هیله من وي؛خو تا ته الله تعالی دغه هر څه در په برخه کړي دي،پر دې د الله تعالی شکر وکړه.

۱۳٦. (ته دې ته سوچ وکړه!!!)

- څوک کور لري؛خو ګاډی(موټر)نه لري.
- څوک ښځه لري؛خو وظیفه نه لري.
- څوک اشتها لري؛خو خواړه نه لري.
- څوک خواړه لري؛خو خوړلای یې نشي.

۱۳۷. (دغه واوره او خوند ترې واخله!!!)

- جومات د اخرت بازار دی.
- کتاب د ژوند ملګری.
- ښه چارې د قبر توښه.
- ښه خوی د عزت تاج دی.

۱۳۸. که د غوسې پر مهال پرېکړه وکړې؛نو پر کړې پرېکړه به ډېر ژر پښېمانه شې؛خو پښېمانتیا به بیا درته هېڅ ګټه نشي رسولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳۹. د جونګړې اوسېدونکی باید پر خپله جونګړه او د شلېدلو جامو خاوند باید پر خپلو شلېدلو جامو خوښ شي،ځکه چې دنګې ماڼۍ نړېږي او ورېښمينې جامې زړېږي.

۱۴۰. ښايي له سفر نه په پاتې کېدو،له ښځې نه په بې برخې کېدو او له دندې نه په ګوښه کېدو کې دې هم ګټه وي!

۱۴۱. ډېره تر ونې کلکه او وسپنه تر ډېرې کلکه ده او اور تر وسپنې څواکمن دی او باد تر اور زورور دی او ایمان تر دې ټولو قوي دی.

۱۴۲. هغه څوک،چې پر موقت شهرت ټینګار کوي،د ګټور علم،نېک عمل او تلپاتې ژوندانه لپاره خواري نه کوي؛نو دا ډېر بېکاره سړی دی،چې هېڅ ارزښت نه لري.

۱۴۳. خلکو سره د خير په کارونو کې مرسته کوه او ټول بشر ته خير ورسوه.

۱۴۴. په خپل ځان باندې صدقه ورکول لازم کړه،خير که لږ هم وي،ځکه چې زړه خوشحاله کوي،غم او اندېښنې ختموي،خوښي او روزي زياتوي.

۱۴۵. د نجات د اوصولو څخه دا هم دي،چې د ځان نه الله تعالی او ګرد چاپېره خلک خوشحاله کړه.

۱۴۶. د الله تعالی نه د تل لپاره عفوه،ښښنه او عافيت غواړه.

۱۴۷. یوازې او ګوښه والی د بد مجلس نه ډېر غوره دی؛خو بهتره مجلس د یوازې والي څخه په څو چنده غوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱٤۸. په دُنیا کې که خوشحالي غواړې ماشومان خوشحال وساته،که د ایمان خوشحالي غواړې؛ نو نېکان خوشحاله وساته.

۱٤۹. دوه پټ نعمتونه:

- د بدن روغتیا او؛
- د وطن امن.

۱۵۰. دوه ښکاره نعمتونه:

- ښه ثناء ویل.
- نېک او صالح اولاد.

۱۵۱. نېک انسان هغه دي چې:

- نه فاسق وي او نه مریض.
- نه قرضدارې وي او نه غریب.
- نه غمژن وي. نه بندي او نه تورن وي.

۱۵۲. نېکبخته هغه دي چې:

- دُښمنیانې ختمې کړي.
- نېک عملونه وکړي.
- د شهوتونو څخه ځان وساتي.

۱۵۳. که په دُنیا کې نېک انسان د ځان نه جوړول غواړې؛ نو الله تعالی رضا کړه،که خلک د ځانه خوشحاله غواړې؛ نـو د خلکـو سره نېکي وکړه.

۱۵٤. (دا واوره!!!)

- تبسم د نېکبختۍ لپاره کیلي ده.
- مینه او محبت د نېکبختۍ لپاره دروازه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- خوشحالي د نېکبختی لپاره باغچه ده.
- ایمان د نېکبختی لپاره رڼا ده.
- امن د نېکبختی لپاره دېوالونه دي.

۱۵۵. تر او تازه شخص:

- چې ښایسته مخ.
- شنې باغچې.
- یخې اوبه او؛
- ګټه رسونکې کتاب ولري؛خو دا ده هغه زړه سره،چې خیر خوښوي او ګناه پرېږدي.

۱۵٦. لاندې کارونه په ځان کې پیداکړه:

- په خوشحالی شکر اوباسه.
- په مصیبت کې صبر کوه.
- په چپتیا وخت کې سوچ او فکر کوه.
- نظر،چې اچوې عبرت ناک نظر کاروه.
- خبرې،چې کوې د الله تعالی ذکر کوه.
- ژوند د تابعداری تېروه.

سلمت من الصَّممِ والبُكْمِ والعمى. ونجوت من البرص والجنون والجذام. وعوفيت من السل والسرطان. فهل شكرت الرحمن؟!

۱۵۷. تـه د کوڼوالي،ګونګـوالي او ړونـدوالي نـه سـالم یې،تـا د برګي،لېونتوب او جذام مرض نه خلاص یې او تا ته د سل او سرطان مرض نه عافیت حاصل دی؛نو ایا ته اوس هم د رحمن ذات شکر نه اوباسې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۸. د الله تعالی ذکر:

- الله تعالی رضا کوي.
- انسان نېکبخته کوي.
- شیطان سوځوي.
- غم ختموي.
- د میزان تله ډکوي.

۱۵۹. دا هم واوره چې:

- رښتیا اطمنان دی.
- دروغ شک دی.
- حیاء ساتنه ده.
- علم حجت او دلیل دی.
- بیان ښایست دی.
- چپوالی حکمت دی.

۱۶۰. درې شیان دواء ده: خوشحالي، راحت او پرهېز.

> طُوبَى لمن إذا أُنعِمَ عليه شَكَرَ, وإذا ابتُلِيَ صَبَرَ, وإذا أذنب استغفر, وإذا غضِبَ حلمَ, وإذا حَكَمَ عَدَلَ.

۱۶۱. خوشحالي د هغه چا لپاره ده چې:

- کله چې پرې نعمت وشي؛ نو شکر اوباسي.
- کله چې پرې امتحان راشي؛ نو صبر کوي.
- کله چې گناه وکړي؛ نو ببښنه غواړي.
- کله چې غوسه شي؛ نو د صبر او استقامت نه کار اخلي.
- کله چې فیصله کوي؛ نو د عدل او انصاف نه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۶۲. د زړه غذاء:اخلاص،توبه،انابت او توکل دی.

۱۶۳. ای ناروغه! :

- ان شاءالله پاک شوې.
- خطاء دې وبښل شوه.
- ګناه دې ورژول شوه.
- زړه دې صفا شو.

۱٦٤. کله چې دُنیا په محاکمو کې عدالت او انصاف نشي ترلاسه کولای؛نو خپله دوسیه د اخرت قضا ته وړاندې کړه،ځکه هلته ګواهان ملایک،دعوه خوندي او قاضي په خپله احکم الحاکمین دی.

۱٦٥. نوح علیه السلام د حق او دعوت په لار کې نهه سوه پنځوس کاله ستونزې وګاللې،صبر يې وکړ؛ خو له دعوت نه يې لاس وانه خیست،ان تر دې،چې الله تعالی ده ته خلاصون ورکړ او دُښمنان يې په سمندري توپان غرق،هلاک او تباه کړل.

۱٦٦. ابراهیم علیه السلام ته وګورئ،کفارو اور ته وغورځاوه؛ خو الله تعالی ورته د اور لمبې سمسوره باغ کړ او د لار ورکي قوم له شر نه يې وژغورې.

۱٦۷. موسی علیه السلام ته وګورئ،چې فرعون څومره وځوراوه! خو الله تعالی ورسره مرسته وکړه،دریاب يې ورته وچ کړ او د ده دُښمنان يې پکې غرق،تباه او هلاک کړل.

۱٦۸. عیسی علیه السلام ته وګورئ،چې بني اسرائیل يې په دُښمنۍ کې تر کوم پړاوه رسېدلي ول،پر عیسی علیه السلام او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده پر پیغمبرۍ یې نېوکې او تورونه ویل،ان تر دې،چې په مرګ یې ورله اسره ونه کړه؛خو الله تعالی یې مرسته وکړه او عیسی علیه السلام یې ترې اسمان ته پورته کړ او د ده پر ځای یې دُښمنانو په تېروتنې سره د ده په ګومان بل څوک وواژه.

۱۶۹. زمور ګران او خوږ پیغمبر وګورئ،چې د مکې مشرکینو،یهودو او نصاراوو څومره ځوراوه،له ډول ډول ستونزو سره یې مخ کړ،نه دا چې فقط د هغه صلی الله علیه وسلم له پیغمبرۍ یې انکار وکړ او ملنډې یې پرې ووهلې،بلکې د هغه نږدې ملګري یې شهیدان کړل،پاکلمنه ښځه عایشه رضي الله عنها یې په ناروا تورنه کړه او ان تر دې،چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مرګوني بریدونه او یرغلونه وکړل،مبارک غاښونه یې ورله شهیدان کړل.

۱۷۰. ګران رسول الله صلی الله علیه وسلم ،د کافرانو له لاسه له لوږې نه په ګېډې پورې تیږي هم تړلې.

۱۷۱. عمر بن خطاب رضي الله عنه ته وګورئ،چې په محراب کې شهید شو.

۱۷۲. عثمان رضي الله عنه ته وګورئ،چې د قرآن کریم تلاوت ته ناست و او باغیانو شهید کړ.

۱۷۳. علي رضي الله عنه جومات ته د تلو پر مهال شهید شو.

۱۷۴. حسین رضي الله عنه ناحقه په شهادت ورسول شو.

۱۷۵. عبدالله بن زبیر رضي الله عنه د مکې په حرم کې دننه د حجاج بن یوسف له لوري په شهادت ورسول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۷۶. د اهل السنةوالجماعة ستر امام؛ احمد بن حنبل د حق په لار کې زندان ته واچول شو او پر ډُرو ووهل شو.

۱۷۷. سعید بن جبیر رضي الله عنه د حجاج بن یوسف په امر ووژل شو.

۱۷۸. د ابوجعفر المنصور په دور کې د اهل السنة والجماعة ستر امام؛امام ابوحنیفه رحمه الله په بند محکوم او پر ډُرو ووهل شو.

(داسې یو نا اشنا انسان و،چې په مرقات کې یو عبارت دی چې:

﴿ أَنَّهُ خَتَمَ الْقُرْآنَ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ سَبْعَةَ آلَافِ خَتْمَةٍ ﴾ مرقاة المفاتيح(١ج ٣٠ص).

یعنې:په کوم ځای کې،چې وفات شو؛ نو په هماغه ځای یې اووه زره ځلې قرآن کریم ختم کړې و.

۱۷۹. ستر زاهد عالم سعید بن المسیب د مدینې د امیر له خوا پر ډُرو ووهل شو.

۱۸۰. شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله زندان ته واچول شو،له خپلې کورنۍ،خپلو خپلوانو، دوستانو او ملګروان تر دې،چې له کتابونو کتلو هم منع کړی شو.

که مور د داسې پېښو په لیکلو پیل وکړو؛نو قلم به مو ملتیا پرېږدي،یعنې په قلم کې به مو رنګ ختم شي؛خو پېښې به ختمې نشي؛نو ځکه پر همدې بېلګو بسنه کوو.

*سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ*

**د ژباړې پای**

۱۳۹۷/۱۲/۴ هجري لمریز؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دُعا

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ. اللَّهُمَّ إنا نسألك ،مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ، وَنَبِيُّكَ، مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم ونعوذُ بكَ،مِنْ شَرِّ ما استعاذك، مِنْهُ عَبْدُكَ، وَنَبِيُّكَ، مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم، اللَّهُمَّ إنا نعوذُ بك مِن الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، ونعوذُ بك، مِن الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ ، ونعوذُ بك مِن الْبُخْلِ وَالْجُبْنِ ، ونعوذُ بك مِن مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وقهرِ الرجالِ، سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library





چاپچارې

افغان خيرندويه ټولنې تخنيکي څانګه - جلال آباد

0779090782 - 0780856174

gullmuhammadadil78@gmail.com

Afghanpublisher-Nangarhar

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**